# چا چې د یو ښه کار لارښوونه وکړه، هغه لره د هغه کار د تر سره کوونکي په څېر اجر دی

له ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنِّي أُبْدِعَ بِي فَاحْمِلْنِي، فَقَالَ: «مَا عِنْدِي»، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنَا أَدُلُّهُ عَلَى مَنْ يَحْمِلُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ». رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی، ویې ویل: (زما سپرلۍ مړه شوه او زه په لاره کې پاتې یم) نو ما په یوه سپرلۍ سپور کړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «زه یې نه لرم»، نو یو سړي وویل: اې د الله جل جلاله رسوله! زه به یو څوک وروښایم هغه به یې سپور کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « چا چې د یو ښه کار لارښوونه وکړه، هغه لره د هغه کار د تر سره کوونکي په څېر اجر دی».

[صحیح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی او ورته ویې ویل: زما سپرلۍ مړه شوې ده، نو ما په یوه څاروي سپور کړه او ماته یوه سپرلۍ راکړه چې ومې رسوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغه څخه بخښنه وغوښته ځکه چې هغه د هغه د سپرولو لپاره هيڅ شی نه درلود، نو یو سړی چې هلته حاضر و وویل: اې د الله رسوله! زه به یو څوک وروښایم چې سپور یې کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې هغه د سپرلۍ د خاوند سره په ثواب کې شریک دی، ځکه چې اړمن ته یې د هغه لارښوونه وکړه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5354